FRONTEX
EUROPEAN BORDER AND COAST GUARD AGENCY

# په Frontex کې ستاسو د شکایت کولو حق

PASHTU



# ستاسو بشري حقوق او اساسي آزادۍ

تاسو حق لرئ چې ستاسو د فزيکي او ذهني سلامتيا درناوی وشي، تاسی سره په درنښت چلند وشي، تاسو ته پناه در کړی شي او تاسی له تبعيض سره مخ نشي. دا د هغو بنسټيزو حقوقو څخه دي چې د اروپا قانون کې پيژندل شوي.

که چرته تاسو باور لرئ چې د Frontex (د اروپا د سرحداتو او ساحل ساتونکو اداره) په کوم فعاليت کې ستاسو د اساسي حقوقو نه سرغړونه شوې نو تاسو د شکايت کولو حق لرئ.

دا اداره د اروپايي اتحاديې غړو هيوادونو سره مرسته کوي ترڅو د اروپايي اتحاديې بهرني سرحدونه کنټرول کړي. په دې فعاليتونو کې ډير کسان شامل دي، لکه هغه افسران کوم چې اروپايی اتحاديې ته د راتلو په وخت کې ستاسو معلومات ثبتوي، کارمندان کوم چې ستاسو د ګوتو نښې اخلي، ترجمانان، د سپو روزونکي، د راستنيدونکو کسانو سره د هغوی اصلي هيواد ته تلونکی، ډاکټران او فرهنګي منځګړي. دا ټول خلک بايد ستاسو اساسي حقوقو ته درناوی ولري. که نه وي نو تاسو کولی شئ اداريې ته شکايت وړاندې کړئ.

# څوک کولی شي چې شکايت وړاندې کړي؟

که چرته تاسو دا باور لرئ چې ستاسو اساسي حقوق د هغه چا لخوا تر پښو لاندې شوي کوم چې د يوې اداري فعاليت کې دخيل دی، نو تاسو کولی شئ يو شکايت وړاندې کړي، پرته لدې چې ستاسو عمر څومره دي.

دا هم ممکنه ده چې کوم بل څوک، وکیل یا سازمان ستاسو استازیتوب وکړي او ستاسو په استازیتوب ستاسو شکایت درج کړي.

تاسو کولی شئ په اروپا کې د خپلی اداري وضعیت څخه په آزاده توګه یو شکایت وړاندې کړئ (د مثال په توګه که تاسو د پاتې کیدو قانوني جواز لرئ یا دا چې تاسو د پناه غوښتنه کوی).

که چیرې ډیر خلک د ورته کړنو له کبله اغیزمن شوي وي نو تاسو کولی شئ یو ګډ شکایت وړاندې کړئ.

## څنګه کولای شو چې شکایت وړاندې کړو؟

تاسو باید په لیکلي ډول شکایت وړاندې کړئ او د خپلو اړیکو نیولو خبرتیاوې ورکړئ. که تاسو غواړئ د شکایت فورمه وکاروئ نو کولی شئ د اداري په وېبپاڼه یې په مختلفو ژبو کې ومومئ. تاسو د بریښنالیک یا لیک له خوا هم خپل شکایت استولی شئ.

لطفا وضاحت ورکړئ چې ستاسو کوم حقوق، څنګه او چیرته تر پښو لاندې شوي. تاسو کولی شئ هر وخت د خپل شکایت په اړه اضافي مواد ولیږئ. همداراز اداره کولی شي د نورو معلوماتو لپاره تاسو سره اړیکی ونیسي.

تاسو کولی شئ خپل شکایت آنلاین د بریښنالیک یا لیک له لارې واستوئ:

**وېبپاڼه:**
http://frontex.europa.eu/complaints/

**بریښنالیک:**
complaints@frontex.europa.eu

**پوستي پته:**
Frontex – European Border and Coast Guard Agency
Fundamental Rights Officer
Plac Europejski 6
00-844 Warsaw
Poland

## د شکایتونو پروسه څنګه کار کوي؟

د اداري د اساسي حقوقو افسر به ستاسو شکایت مطالعه کړي او پریکړه به وکړي چې ایا دا اداره کیدی شي که نه. که نه وي نو کله چې ممکن وي تاسو به د خپل شکایت لپاره د نورو اختیارونو په اړه خبر شئ.

د شکایتونو منلو لپاره ځانګړي معیارونه شتون لري. تاسو کولی شئ دا د اداري په ویبپاڼه کې د شکایتونو میکانیزم په اړه قواعدو کې ومومئ.

که چرته ستاسو د شکایت پروسس کول ممکن وي نو دا به د اداري اجرایوي رئیس ته واستول شي. که چیرې د اروپایی اتحادیې د غړیو هیوادونو کارمندان ستاسو په قضیه کې دخیل وی نو شکایت به د هغه غړي هیواد چارواکو ته هم واستول شي. دا چارواکي د موندنو چمتو کولو او بېرته د اساسي حقوقو افسر ته راپور ورکولو مسؤلیت په غاړه لري، بیا به هغه تاسو ته ستاسو د قضیې د پایلو په اړه خبر درکړي.

ښايي چې د شکایت پروسس کولو لپاره اړین وخت د هرې قضیې په اساس توپیر ولري. په هرصورت اداره ژمنه ده چې ستاسو شکایت په مؤثره توګه اداره او تعقیب کړي.

ستاسو شخصي معلومات (نوم، د اړیکو تفصیل ...) به یوازې ستاسو د رضایت سره سم د صلاحیت لرونکی چارواکو سره شریک شي، او ستاسو د شکایت تحقیق کولو پرته به د بل کوم مقصد لپاره نه پروسس کیږي.

تاسو کولی شئ خپله قضیه په ورته وخت کې نورو نهادونو، لکه ملي محکمو ته هم واستوئ، کوم چې په ممکنه توګه ستاسو د حقوقو په خوندي کولو کې هم مرسته کولی شي.

FRONTEX
EUROPEAN BORDER AND COAST GUARD AGENCY

Plac Europejski 6
00-844 Warsaw, Poland
T +48 22 205 95 00
F +48 22 205 95 01

frontex@frontex.europa.eu
www.frontex.europa.eu

© European Border and Coast Guard Agency (Frontex), 2019

Publications Office
of the European Union

FPI 19.0118

PDF
TT-03-19-634-PS-N
ISBN 978-92-9471-650-7
doi:10.2819/02363